ما سخوښ چې مؤظف ډاکټر نه موږ د ښیا-بیا غوښتنې
په اثر راغی او د ده فشار یې وکوت؛ څه دوا یې ورته

ولیکله ، ډاکټر صاحب چې نسخه ولوسته ورته وې ویل : لطفاً زما له پاره دا دوا مه لیکئ ، چې هیڅ ګټه نه راته کوي زه فعلاً علاوه پر فشار د پښتورګو له شدید درد څخه ډېر په عذاب یم . . . .

څرنګه چې دا ډېر وخت په دې ناخوښ اخته یم او ډېره تداوي مې کړېده ، ماته نسبتاً مفیدې دواګانې معلومې دي برسېره پر دې ، زه هم ډاکټر یم ، که هرڅو درته مجرم ښکارېږم اقلاً د هم مسلکۍ په لحاظ راته داسې یو څه ولیکه ، چې تر سهاره خو وربانديې آرام یم او دا نور وروڼه مې راسره پکښو نه شي . . . .

مؤظف ډاکټر په ډېر کاوې ورته وویل : ته ځنه ډاکټر یې او نه ناروغ ، بلکې د اشرارو مل او یو غدار بنیادم یې ؛ دومره دوا هم دربانديې حیف ده چې وې لیکله .

ډاکټر صاحب ورته وویل : که دا له زړه وایې نو یوه داسې دوا ماته تجویز کړه ، چې تاسو زما له شره خلاص کړې او ما د ژوند له ستونزو .

مؤظف ډاکټر بد-بد ورته وکتل او چې روان شو وې ویل : زه وایم چې مرګ ته دې ستړکې ووچې ته د آرام خوب غواړې .

ناروغ ډاکټر ډېر متأثر شو . څه شیبه وروسته ما تسلي ورکړه ، چې ته خوا مه بدوه ، خدای مهربان ذات دی .

ده رانه وویل : بېشکه چې خدایځ لرو او هغه ډېر مهربان دی ، په دې کې به هم د خدایځ پاک د رحم څه اسرار وي، چې موږ يې نه شو تشخيصولای، خو بنیادم ډېر کمزورې دی ، ځینې خبرې سړې ډېر مایوس کړي مثلاً، زه يې دا دی په دې ورځو حال کې له معاینه خانې راوستم ، کوم به مې خبر نه وي، چې څه بلا وخوړم د وهلو- ټرېټلو او مځنلفو شکنجو يې رابانديې څه چوسه نه وکړه ؛ دا هرڅه رابانديې ټپر شو او د ډېرو شکنجو په انتظار يې لا دا دی ګورځ چې ساتلی يم خو ؛ يوه شکنجه هم دومره دردوونکې نه وه ، لکه د دې مؤلف ډاکټر دغه رویه .

ما ورته وویل : له یو غلام او له خدایځ منکر بنیادم څخه څه ګیله کوې ؟

چې شپه پخه شوه نور ملګري اکثر په درانه خوب ویده وو ؛ صرف د ډاکټر ځګیروي وو او زه ورته په غمونو کې ډوب ناست وم ، چې له مخانځ کوټې ډېرې بدې چیغې راوریدل شوې ، درستو ملګرو سرونه راجګ کړل ، پته يې نه معلومیده ، چې کیسه څه ده ؟ بیاې څوک د خدایځ پرستې په جرم نیولی دی ؟

درسته شپه به په هر لسو- پنځلسو پلټو کې هغه چیغې تکراریدې . سهار ته ایله زموږ یوه ملګري

ته کوم دوست حال ویلی و ، چې بېګا شپه د ډاکټر زرغونت تحقیقات وو . ډاکټر زرغونت یو مشهور کمونست و ، چې درست عمر یې د کمونیزم له پاره هلې- ځلې کړې وې او دومره پکې ځلیدلی و ، چې تر پرونه به دوی د ډاکټر زرغونت په ملګرتوب او فعالیت فخر کاو ، خو نن یې دا حال و .

ما ډاکټر ته وویل : ښه شتیا خبره ده ، چې سپی هم د سپي غوښه نه خوري ، خو ، دکمونستو حساب بېل دی .

۱- ۲ - ۱۳۵۹

کابل

بهار آمد بیا سنبل بکاریم
سرقبر شهیدان گل بکاریم
سرقبرشهیدان گل چه باشد؟
همه پروانه و بلبل بکاریم

د
«ناشر کتابخانه اوموزیم
څه شول ؟

مرحوم غلام سرور ناشر په نورو عمرانی او اجتماعی خدمتونو برسېره د وطن د تاریخ او فرهنګ سره هم د زړه مینه لرله د څو میاشو له بلخه تر پامیره لوړې څوکې او لوړې پلنې دښتې په دوی باندې د آس په سواریدلو وویلې .

هرچېر ته چې د ژوندې آبادۍ نښه وه ، دوی یې عکسونه واخیستل او په ژوره پاملنو کې یې وړېې پلټنه وکړه . تر کومه ځایه چې ممکن وو پخپله یې معرفی کول چې د ژیاتې پلټنې او تحقیق ضرورت به یې لید خارجی لرغون-پوهان به یې ورته متوجه کړل . چنانچه د «آی خانم» نښار د لومړي ځل له پاره دوی معرفی کړ ، چې بیا وروسته لرغون-پوهانو د پلټنو او کېندنو په نتیجه کې دوبر په ژوند پوهې آثار او د یوه پخوانې مدنیت عمرانات تر سترګو سېره کړل .

ناشر صاحب مرحوم د ژوند څلور ستاني (کندز ، تخار بغلان او بدخشان) له هره ګوټه ژوندې سکې او پخوانې

آثار وړتول کړل ، د دې له پاره چې د غه اثار خوندي پاته شوي وي او په عین حال کې د تخارستان د زاړه ښارو پلټونکو ته د تخارستان په ټاټوبي کې کافي مواد موجود وي؛ یوه لویه کتابخانه او ورسره یو ووړ اما ډېر نفیس او قیمتي موزیم یې د خپل کور خواته په کندز کې په خپل شخصي مصرف د عام ولس د استفادې له پاره ودان کړل .

خو مره چې زما یاد دیږي په کتابخانه کې د پښتو او دري تخمیناً دریو - خلور زره توکه چاپي کتابونه خلور - پنځه زره توکه هم پښتو، دري ، انګلیسي او فرانسوي مجلې پرتې وې . د غه شان سل - شپږ شله جلده قلمي آثار یې خوندي شوي وو ، چې په هغو کې ځینې منحصر اوکم یاب نسخې هم وې، لکه د پښتو یوه زړه شاهنامه چې په دوه - دوه پیمانه بیته مشتمله او په ډیر ښکلي خط لیکلې شوې وه . شاهنامه د ننګرهار د یو پخواني مشهور ناظم « مرحوم محمد کګل د للي » اش و دا شاهنامه مرحوم ناشر صاحب ته په فرخار کې کاس ته ورغلې وه.

د موزیم په برخه کې د کندز تخار او بغلان له مختلفو سیمو په کاس راغلي آثار او د کندز د ولایت ځینې د لیدلو وړ کاسي صنایع او د غه شان د لرغونو مسکوکاتو نسبتاً پوړ البوم پروت و ، چې په د غو سیمو کې رابیږ سکې پې له ابتدا نه تر نننه پورې د تاریخ په اعتبار پکې اینې وې .د ناشر د کتابخانې او موزیم ورونه به هره ورځ په وړیا

انان پشتش را ، مگر رجوع کنندهٔ دوباره به جنگ (از راه دیگری) یا یکجا شونده به دستهٔ دیگری (از همسنگرانش) پس محققاً که بخشم پروردگارش بازگشت نموده و جایگاه او جهنم است ، که بدترین جای بازگشت است » .

آری ! در اثنای رویرو شدن با صفوف دشمن ، نباید از رویایی با آنان بیم داشته عقب نشینی نمائید ، پا به فرار بگذارید و سنگر را برای دشمن تخلیه کنید .

عقب نشینی و تخلیهٔ سنگر فقط در دو صورت جائزاست :

(۱) «تعویض سنگر» برای ادامهٔ جنگ از سمت دیگری .

(۲) انضمام با همسنگرانی که در اثنای جنگ از آنان فاصله گرفته است .

در جای دیگری میفرماید :

« یاایهاالذین امنوا اذا لقیتم فئة فاثبتوا واذکروا الله کثیراً لعلکم تفلحون . و اطیعوا الله و رسوله و لا تنازعوا فتفشلوا و تذهب ریحکم واصبروا ان الله مع الصابرین . و لاتکونوا کالذین خرجوا من دیارهم بطراً و رئاء الناس و یصدون عن سبیل الله ط . والله بما یعملون محیط . »

« سورهٔ الانفال - آیهٔ ۴۵ - ۴۷ »

« ای آنانیکه ایمان آورده اید ، چون با گروهی ازدشمن رو برو شدید ، پس (ثبات ورزید) و (خدا را به کثرت یاد کنید) امید است کامیاب شوید و (خدا و پیامبرش را) اطاعت کنید) و (با همدیگر به نزاع نپردازید) ورنه بزدل

توکمه د لوستونکو او لید ونکو پر مخ خلاص وو.

کله چې سردار داود خان جمهوریت اعلان کړ، د ناشر صاحب کتابخانه او موزیم هم ملی شول، وروښو ته یې قلفونه ولویدل کتابدار او تحلویدار یې برخصت شول، خو څه ستړي ورک شوي نه وو.

د خلقیانو په وخت کې هم هغه شاپې تړلې پاته شول خو کله چې روسان راغلل هرڅه پوره ګډه وډه شول، څه آثار یې کابل ته راانتقل شول - مګر په دې برو قیمتی آثارو یې روسانو او د کندز پرچیانو کاس تېر کړ او د کندز خلک یې له دې ارزښتناکه فرهنګی مرکز نه محروم کړل. دا هم د روسانو له زړګونو خواخوږیو (؟) یوه خواخوږي او له پښتنو او مرستو (؟) چې دعوه یې کوي؛ دیوې ادعا ثبوت و. د دوی فرهنګی مرستې همیشه دغه شکل لري او دې ته فرهنګی مرستې وایي، چې د یو ولس هرڅه تالا کړي او په ځای یې د «لینین» مجسمې او د «پراودا» د اخبارونو کلکسیونونه کېښودل شي.

بهار آمد گل و سروسمن کو؟
نشاط سبزه در دشت و دمن کو؟
مگر بینی دل آغشته در خون
گلی در دامن مهر وطن کو؟

لنډۍ

زما ارمان وتلی نه دی
توپک راواخله یوځل بیا سنگر ته ځونه
د داشکې میخونه تینګ کړه
سبا وعده ده جاهد مرکز ته ځینه
د پس لګد ګولۍ راواخله
چې د دښمن له موږ چې پوره کړو ګردونه
ستاد راکټ ترګولۍ جارشم
د دښمن شوبلونه دې ورک کړل ګودرونه
د هاوانچې په لاس ببرکت شه
د دښمنان کډې باروي موچې پرېږدینه
د توغندي له ډبرکته
د کړېملین واکدارانو اوښکې تویو یېنه
د وطن فروش کارمل له لاسه
روسان کورونه ورانوي، مالونه وړ یېنه
تروکیه ! ګوره دې له اوږه ورک شه
په ګران وطن باندې دې بل کړل سره اوږه

لعين سكه وروږد شيطان ؤ
له افغانانو نه يې ډك كړل زمندانو ښه
د كابل كانې - بولتې ژاړي
چې باندې گرځې د وحشي دښمن ټانكونه
چې مسلمان وي - وهندوست وي
د خداۍ دښمن وطن په بل چا خرڅوينه
گربوان مې بيا په اوښكو لوند دی
د چاله غه سترگې اوښكې ډډوينه
له غيرتي مجاهد جار شم
سر وركوي خو خپل وطن آزاد وينه
زما د وينو باران اوري
ځكه آسمان په حُمكه بند كړل بار انډونه
ډيكتيټا غږونه اوپه شول
د دين دښمن پرې د اور مېې غوږ حُوينه
سپوږمۍ كال د بري كال دی
كاروان روان دی د وحدت په اوري حُينه

ژباړونكی : محمد عارف غروال

خاونده ! بيا دې مازيگر كړ
مجاهد د كې گردنې موږ چل ته حُينه
سنگر د خان په وينو رنگ كړه
چې شاوخوا دې ارغوان راوخيژ ينه

وطن ته گورم ژړا شي
چې شاته گورم مجاهد دې خداۍ لرينه
ما د هغه سنگرنه جار کړې
چې مجاهد پکې و هلي خُنگونه
څه عجب خوند د شهادت وي
د خُنگدن سلگۍ وهم خندا راځينه
ما د هغه توپک نه جار کړې
چې مجاهد پرې وروسې وژلی وينه
مجاهدين وارِه توتيان دي
په ټوله زخميان دي شوروبيان پې خُوږوينه
چې ټوله توره راسره وي
او کمونستونه مې ځوځ کړای گردنونه
د غازي آباد لويو خُنگلو کې
سروسې ناري کړې مجاهد ويشتلی ديمه
افغانستان به خداۍ آزاد کا
د سخي جان مې نذرانې منلې ديمه
افغانستان به خداۍ آزاد کا
دپښور په ولو مه کړه گلونه

راليږونکې : خورگډ ز ،

کابله ! بخت دې مبارک شه
چې پرنامه دې افغانان سر ورکوينه

د کندهار تر خاورو جار شم

چې پښتني پېغلې شالونه ډېرې سپېڅينه

تاریخ به ټل په ټې نارې ږدي

چې مو مات کړي د روسي سپي دي غابنونه

شهیده زما درته سلام دی

چې د ډې هډونه پر خپل ملک مات کړي دينه

بریالیتوب به آخر ستا وي

چې مو راخیستي د کورو سپین کفنونه

د غه معطره ټن فضا ده ؟

که د شهید د وینو بوی د مشک راځینه

تا ته حیرانه ټن دنیا ده

چې د ډې شړلې د روسیانو ستر فوجونه

سهار - سهار دنرې شمال دی

غازي د لوړ سنګر په خوا غزاته حیینه

سنګر وال ټول په تا نازېږدي

چې دې په وینو اوبه کړي دې کلونه

دا جنازه د کوم زلمي ده ؟

چې د آسمان وریاندې اوري سپین کلونه

دا جنازه زما د وروس ده

زه ډې بدل د سرو روسیانو سره اخله

دا ډې قسم دی مومن وروره !

زه د روسیانو نه به اخلم حسابونه

خاورې که زما د پاکستان ده
خیر دی مرستې له کابل ته به در ځمه
نه یم پښتون دا مې وعده ده
نه د افغان وروڼو کوم به خدمتونه
دغه مې مرسته ده غازیانو
چې ستا پر تنګ باندې ټپي تن جوړومه

د البرونکی : ناظر صادق
(گورډن هاوس - کوټه)

قسم په خدای ﷻ اختیار پې نه شته
هسې له شرمه ځان دنیا ته ورنګو یمنه
مومنه تن د غزا ورځ ده
د اسلام خاورې ته روسان راغلي دینه
دغه وطن د مسلمان دی
دا ملحدان به څنې چې څوړند سرونه
د پاک الله پاکه رسوله !
په پاکه لاره به ستا اخلو قدمونه
توپ ، د هشکې لري ټینګونه
لاره پې نیسه مازیګر قطار راځیږنه
موږې ! د پلار توره مې راکړه
د روس په وینو پې رنګونه پاکومه
وروره ! کاښوس - پتوپک تیارکړه
د سړک غاړې ته روسان راغلي دینه

چې مجاهد چېرته ولاړ وي
ملکې وېښې د جنت نېرې کلوڼه
له ملکه شنې لوخړې خیژي
وېنې تویېږي چې روسان راغلي دینه
ببرک خو ټینګې ته تیار دی
خواږکی څه وکړي روسان یې نه پرېږدینه
په تخت دې سره اوړونه بل شه
چې ته پاچا یې او روسان کوي حکمونه
دا غاړې غږونه - دریابونه
واړه موږ چلې دي روسان په بلا خورینه
چې د غازي سیوړی بنکاره شي
ببرک له وېرې سفارت ته منډې کړینه
چې د غازي سیوړی بنکاره شي
روسان له وېرې په هر چا کوي فیرونه

راټولونکی: ا. م. احمدی

(له دیره اسماعیل خان څخه)

عبدالباری- غیرت

داوښکو دریاب

زما د زړه د اسویلي له حرارته
تورې وریځې شوې پیدا له دې علته
د سرو اوښکو لوی دریاب طوفاني شوی
خبر نه یم له سکون او له راحته

دا د اوښکو لوی دریاب چې نه وچیږي
رقیبانو راپورې خاندي موسیږي
زما په حال د ګل غوندې خیرې ګریوان دي
فلک وګوري چې اوښکې یې څڅیږي

زمانه کړي تحول او ګرد شوننه
په ما اچوي امیال - امیال غمونه
هرچې کاندي، خپل نصیب راباندې کاندي
خو، څه یم له دې دهر او ګردونه

«زبیر - شفیق»

محبت دی په کار

د آزادۍ په پاکه لار کې شهادت دی په کار
له سر او مال نه، تیریدل او سخاوت دی په کار

ګرانه خبره ده، آسانه ورته و نه وایې
روس لوی قوت دی، لوی قوت ته - لوی قوت دی په کار

دې وزګانو خلاصول د ستمګر له پنجو
آسانه نه دي، ملا تړل او متانت دی په کار

له بد بینۍ - بدګمانۍ نه څه نه جوړیږي
د خدای رضا لاس ته راوړلو ته بنه نیت دی په کار

تش په خبرو د غورځنګ یو والی نه جوړیږي
د زړه له تل نه ورورولي او محبت دی په کار

د کاپو - ټاپو، غونډو - ټرهو بازار سو، غونډې وي
وړځ د عمل ده، امتحان دی، صداقت دی په کار

منډه سو اور دازمایښت ده د مسلم د پاره
په دغه اور کې «ابراهیم» غوندې همت دی په کار

د حق سنګر چې آباد یې د باطل په مخ کې
ساتنه غواړي د سرو وینو شجاعت دی په کار.

تسکین

بلوا کې

دې ارځښتی په بازار کې اوسم
هره لحظه په سره انګار کې اوسم

د یار کوڅه کې ـ قیبات ښکاریږي
په زړه چاودونه په انتظار کې اوسم

د سباوونه د زیږي پته نه شته
تورو تیارو ـ ګرد و غبار کې اوسم

مټې ټرلې له ناکامه ګـــرځـم
د بې اختیارو په اختیار کې اوسم

چاړه په لاس جلادان ګرځي رانه
یو بندیوان یم په حصار کې اوسم

کوم چې د مینې لېونې یا دیږي
خوښ یم هغو سره کتار کې اوسم

خواهد شد و شان و شوکت تان از میان خواهد رفت و (از صبر کار گیرید) که یقیناً خدا با عناصر شکیبا است. و مانند کسانی نباشید که از خانه های شان با سرکشی و خودنمائی بیرون آمده از راه خدا باز میدارید و خداوند بر آنچه آنها میکنند احاطه کرده است.

ب :- بعد از آنکه دشمن را از پا درآوردید، صفوفش متلاشی شد و نیروی ادامهٔ جنگ را از دست داد، به بستن اسرای جنگی بپردازید، کسانی را که از صفوف متواری و متلاشی دشمن به چنگ تان میافتد، اسیر بگیرید، بعد مخیرید که با احسان تان بر آنان منت میگذارید و رهایی شانرا بدون معاوضه به مصلحت نهضت دانسته به آن اقدام میورزید، و یا در بدل فدیه و معاوضه آنانرا رها میکنید، ولی باید بدانید که وجیبهٔ نخستین شما (ضرب الرقاب) است و کار بعدی و ثانوی (اسیرگرفتن).

در اولین جنگ صدر اسلام (جنگ بدر) همین قاعده و ضابطه مراعات نگردید، خداوند بالحن عتاب آمیزی فرمودند:

" ما کان لنبی أن یکون له اسری حتی یثخن فی الارض تریدون عرض الدنیا والله یرید الآخرة والله عزیز حکیم.

" سورهٔ الانفال - آیهٔ ۶۷ "

" به پیامبر شایسته نیست که برای او (اسراء) باشد قبل از آنکه در زمین خونریزی کند (با گرفتن اسرای جنگی)

کیسه ده

« ربابه ! ستا په هریو تار کې د آدم کیسه ده »
زما د اوښکو ، د ویرونو او د غم کیسه ده

چې پې وطن او خاله وړانه کړه روسي بمونو
د پې وطنه او پې کوړه خور عالم کیسه ده

د یتیمانو ، کونډو ، بوډو پې اسرې اسویلي
د سوو زړونو د دردونو او الم کیسه ده

پې ویره نه شته هیڅ یو کور ، هریوځیګر زخمي دی
وینې ، اوښکې نه د هر پل او هر قدم کیسه ده

سوله دوستي د سرو وحشیانو راشئ وګورئ لږ
سوله پې جنګ ، دوستي پې مرګ او د ستم کیسه ده

د امنیت !! ټیکه داران به امنیت !! کښې د ا
چې د امنیت پې د راکټ او اټم بم کیسه ده

د خپل غرض لپونې مخه کې بدخه نه وینې
څکه مترې هډوه د «پیان» اود «قم» کیسه ده

د لته ونالوبې د قدرت په غولې زور نیولی
هلته د ودیر او مصیبت او د ماتم کیسه ده

پردې لاسونه که جنون دی د ذاتې اغراضو
و یجار حالت مو نه پوهیږم د څه چم کیسه ده

نغه د ژوند مو شوله ورکه د تانکو دریا کې
اوس راته جوړه د بمو د زیږ او بم کیسه ده

زخمونه نور پسې ناسور شول خدایه څه به کیږي !؟
پنا له سنګرکو مې د زخم د مرهم کیسه ده

چمن مو لوند دی په سرو اوښکو، له زړو وینو څاڅې
مه کښه دا چې کښې د غه د شبنم کیسه ده

د «پسرلي» «نوید» د هیلو ځانګې بیا تازه کړې
«سپیدې» خوږې شوې نوره خټه د نورم کیسه ده

«ن ـ نثار»

د ایمان زور

د مظلوم زړه کې بلشوی د غچ اور یم
لکه تندر د آسمان، غلیم په کور یم

چې ماتې د استکبار کړمه نسکوري
د ځښتن واړه راسره د ایمان زور یم

د احساس او درک خاوند یمه خو ږم
هسې نه چې د هوس په نیلي سور یم

د «توحید» او د «فلاح» له عقیدې نه
د ربښتینې ژوند الهام یمه سمسور یم

که مې وینه توبه نه شي د حق کار کې
په عالم کې شرمنده م، به مخ تور یم

آزادي چې د هېواد ترکاسه نه کړم
د «نیکه» له هډوه نه، خدایږواچې نور یم

مستقل هویت لرم، اوچت مې شان دی
زه غلیم د بل نثاث ـ سونګ او لور یم

مناجات

لویه خدایه ! لویه خدایه ! ته رحیم یې ، ته رحمٰن یې
ته د ټول جهان خالق یې ته د ټول جهان رازق یې

ته اسرې ، د بې اسرو یې د بې وسو مدد کار یې
ته پاچا د کاینات یې ته جبار یې ، ته قهار یې

لویه خدایه ! لویه خدایه ! د کافر ملحد د لاسه
شپه او ورځ بمبار ی کیږي د افغان ږوبنو د پاسه

د افغان وینې بهیږي د کلونو وینې څاڅي
د دوی ملک یې کنډ کپرکړ له دوی څخه نو وینې څاڅي

لویه خدایه ! لویه خدایه ! خپل وطن شو ورنه پاتې
د اسلام په خاطر خدایه ! خپل چمن شو ورنه پاتې

د په در ، خاورې په سړي ماشومان یې یتیمان شول
یتیمان یې شول بې کوره او کورونه یې ټول ویران شول

لویه خدایه ! لویه خدایه ! ته یې خپله مدد کار شې
افغانانو له عفار شې ملحدانو له قهار شې

دا مونږ چې ګنهګار یم خوستا دوست امت کې شمار یم
بې نوا مې نه کړې خدایه ! لاس په نام ولاړ افګار یم

سید اسمعیل فاطمی

خُنځیرونه

خُوږند دار او زولنې او خُنځیرونه
تورې شپې او شکنجې او اعدامونه

تور فکرونه، تور پلانونه، سره لاسونه
د تودو وینو سیلاب او تاړاکونه

د کرېملین د واکدارانو داشعاردی
په آزاد و ممالکو ډیر غلسونه

د وحشت وسله په لاس په بشرګوابنې
د شلم قرن وحشیان او چپاوونه

د نړۍ ډېر هېوادونه پې تسخیرکړل
د افغان په سوک پې ووتل غاښونه

انګازه يې لا تر اوسه ده په غوږ کې
په ډبرو يې چې مات شول قطارونه

چې سور پوڅ يې اړيانا کې په ژړا شو
په آسيا به بيا و نه ګرځي يرغلونه

استعمار دکرېلين نور نا بود ديږي
د بشر په وينو سره مانۍ رنګيږي

بيا به سر راپورته نه کړي په تاريخ کې
کمونيزم، توپ او ټانک سره ماتيږي

رحم به عرش آويزان است و ميگويد هر که مرا پيوند کرد خداوند او را برحمت خود پيوند کند و هرکه مرا ببريد خداوند او را ببرد (باو رحمت نکند)

«بخاری و مسلم»

ذبیح الله - عطائی

دخالق (ج) نصرت

بیا چې نظر ته قافلې د مظلومانو راځي
د روس له ظلمه مهاجرو افغانانو راځي

د دوی تا توبې، سم او غږ وران شول د روسیه
سارې آهونه بیا د کونډو، یتیمانو راځي

وطن مو رنګ شو د شهید په وینو سرتاپه
دا زمزمې دي - که ځکیږوي د شهیدانو راځي

سپین سرې میندې او سپین ږیري موجیران ولاړ دي
چې جنازې ورته د بسکلو فرزندانو راځي

مجاهدین ورته پرانه دي د اسلام سنګر کې
که هرڅو ډلې - ډلې پوځ د ملحدانو راځي

غلیمه ! پوه شه ! ټینګیدای نه شي په هیڅ ډکر کې
مقابلې ته دې ټولکې د افغانانو راځي

ستا اتکار په طیارو، تانکو او توپونو وسلو
زموږ نصرت ته به خالق د عالمیانو راځي

موږ د ایمان په زور جنګیږو، ته د وسلو په زور
تاته مرداري، موږ ته دلې د غازیانو راځي

آخر بري زموږ نصیب دی، دا د رب(ج) وعده ده
په دې خبره کې به شك د بې ایمانو راځي

که دلته مه شي عطائي، نو په سنګر کې کوره
آخر وحدت به د مؤمنو مسلمانانو راځي.

د ۱۳٦٤ کال د حمل ۵

کوټه تهکال - پېښور

امان الله - نصرت

د "شور کودتا"

چې په وینو یې سره کړې بنکلې ناوې دایشیاده
دا د سره خزان سیلی ده - دا د شور کودتا ده

او یانا نه جوړ تنور دی - سړې لمبې دی او ویرونه
خپلو خوښو کې سوځیږي د مظلوم انسان هډوونه
ژړونه وریت شول په لمبوکې - سیني ځیري په چرودي
پرهر وینو کې شټیږي، سره په وینو اندامونه

* *

لوی - واړه شول خاورو لاندې - دا افغان خونه تباه ده
دا د سره خزان سیلی ده - دا د شور کودتا ده

د ژوندون سینه لرزیږي، د اتو م له سخت هیبته
ولسونه دربه در شول - پرکنې شولې بې پښته
هندوکښ په چیغو ژاړي - د سپین غر لمنې سړې دي
د شمشاد ټه شوې مړاوې - د پامیر ټه ړا شکته

* *

څنګه سړه ده، غږونه، هم په وینو سره ډیـنـا ده
دا د سړه خزان سیلی ده - دا د ژوند کودتا ده

* ——

ډېره مړه ده - یادات نه شته - محفلونو کې لمبې دي
ساقي قش کنډول ته ناست دی - د وینې خاورو کې پیالې دي
زلفې سوځي په هوا کې - زړه کې شګو کې سپېرې دي
د شپونکي خوښه شپیلۍ کې، ښه د مرګ او ویر نارې دي

* *

سپوږمۍ مخ وړېځ کې پټ کړي - کتې نه شي نارواده
دا د سړه خزان سیلی ده - دا د ژوند کودتا ده

——*——

ښه د پښلو وربلونه په سړو وینو لمبیـد لی
د خوانانو شعلې کورځ - په لحد کې غوږ ېد لی
د بګړام ترکې ژړا ېږي د مینو په قبرونو
د حنا حاجت یې نه شته - پرې سرې وینې وریدلي

* *

د سړو وینو فوارې دي - زهرجنه شات فضا ده
دا د سړه خزان سیلی ده - دا د ژوند کودتا ده

——*——

هرې خوا ته لیدل کیږي - په ترېکو اندامونه
د چا ستړکې پرندې شوې - د چا مات پښې او لاسونه

اراده میکنید فایدهٔ دنیا را ، و خداوند میخواهد (مصلحت) آخرت را و خداوند غالب با حکمت است».

یعنی کار لازم بود تا اولاً دشمن را کاملاً از پا درآورده سنگرها را از وجود آنان تخلیه میکردید و بعداً تدابیری برای دستگیری اسرای جنگی اتخاذ میکردید و شایسته نیست که قبل از تار و مار کردن کامل بفکر دستگیری آنان شوید .

ج :- کسانیکه در جنگ اسیر گرفته میشوند ، در بارهٔ معامله با آنان خداوند (ج) فرموده که یا بر آنان احسان کنید و یا فدیه اخذ نموده رها سازید . در احسان با اسرای جنگی چار چیز شامل است :

اولاً :- در اثنای اسارت معاملهٔ نیک و برخورد پسندیده با آنان .

ثانیاً :- بجای قتل و قید دایمی ، حوالهٔ آنان به افراد مسلمان به قسم غلام .

ثالثاً :- در راست افراد ذمی گرفته شده ملزم به تادیه جزیه شوند.

رابعاً :- بدون معاوضه رها گردند .

معاملهٔ فدیه نیز سه صورت دارد :

اولاً :- در برابر معاوضهٔ مالی رها شوند .

ثانیاً :- بعنوان شرط رهائی در برابر خدمت معینی آزاد شوند.

ثالثاً :- با اسرای جنگی خود که در قید دشمن اند معاوضه شوند.

ازحکم احسان و فدیه چنین استنباط میگردد که شاید

څوکې په سرو وینو لمبیږي - غوږ یدلی پرې سور شالدی
څوکې په خاورو کې تړپیږي - قلم شوې پې سرونه

* *

دا د سرو قصابخانه ده - دا د ظلم انتها ده
دا د سره خزان سیلی ده - دا د ژوند کودتا ده

نن هغه "هیره" کې اوس دی - "دنارنج" چې به مبلې وې
"گل غونډی" د اوس غونډی ده - چې پې بنکلې تندارې وې
"ما هیبر" کې ویني خاخې - د "پغمان" اوبه هم سرې دي
"گل سرخ" په وینو سور شو - چې د نجونې پرې حلې وې

* *

بس ماتم دی هرې خواته - فریاد ونه او ژړا ده
دا د سره خزان سیلی ده - دا د ژوند کودتا ده

بلبل سوی نه سهار کې گرځي - غوټې سر اینې کفن کې
د سرو وینو شبنم اوري - جوړ شجنون دی هر گلشن کې
سره گلونه پاڼې - پاڼې - د خزان غیږ کې پراته دي
هره خوا فریاد او ویر دی - سري لمبې دي ټول وطن کې

* *

مالي سور دی په سرو وینو - سینه ځیري د بور ا ده
دا د سره خزان سیلی ده - دا د ژوند کودتا ده

څوک چې وتومبي کلونه توره نړۍ وربل کې
د مرګس غونډې به کیږدي، کوم یو خوات د پنډۍ لوبې
تار په تار دي کړي هوانونه - زړه وینه چاودي هر دژل کې
څوک به وخاندي یوبل ته، د یارانو په محفل کې

* *

چې بهار پرې نازیدلو - نن هغه خونه تالا ده
دا د سره خزان سیلی ده - دا د شور کودتا ده

نن هغه سترګې ریندې دي - چې کانه وکړي ګلزار ته
نن هغه احساس ویده دی، چې خندل به یې بهار ته
هغه شرابې ګونګې شوې، چې تبریک وکړي مالیار ته
نن هغه ګوتې دي ماتې، چې غزل ولیکي یار ته

* *

مینه مړه ده، حسن خاوري - د ژوند ون کړه په شاده
دا د سره خزان سیلی ده - دا د شور کودتا ده

طوفانونه د شمال دي - له قطبي د بنتو سره پورته
شمع مړه ده، رڼا نه شته - توره شپه ده هر یو لور ته
هره خوا شور او سلګي دی - هره خوا ویرا وخکږوونکي دي
ګوري ټ - ګوري ټ سترې والو! د روسانو ظلم - زور ته

* *

د ما تم وړیځې خپرې دي - انګولا ده او غوښا د ه
دا د سره خزان سیلی ده - دا د شوړکو د تا ده

د ژوندون بېړۍ غرقیږي - د مرګې پر اوبو وارده
د افغان خونه تالا شوه - سوځیدلې پر ا ښکار ده
جنازه د بشر وځي - د وسانو له ســـــتـه
مرګ، ټرل کا، هم سېچل کا - دا خاصه د استعمار ده

* *

انسانان سوځي لمبوکې - جوړه شوې کربلا ده
دا د سره خزان سیلی ده - دا د شوړکو د تا ده

دا وسې بشر دوستان (!) نن انسانان سیځي لمبو کې
دا د امن مدعیان (!) نن افغانان سیځي لمبو کې
دا د سولې پلویان (!) نن ټول جهان سیځي لمبو کې
لوی - واړه سیځي لمبوکې - زوړ او ځوان سیځي لمبوکې

* *

نور مرام یې څرګند شوی - سره خبره یې هم وسوا د ه
دا د سره خزان سیلی ده - دا د شوړکو د تا ده

خو، نړیوال مؤمن ملت به استعار سره جنګیږي
بنځي - نن به موږه مینه د غه کار کې قربانیږي

سنګرونه به رنګین کړي، د سرو وینو په ګلونو
قربانۍ ته راوبلي - له مرګې نه، نه ډارېږي

* *

سره بلا ګوري، چې تښتي - له هیبته وارخطا ده
دا د سره خزان سیلی ده - دا د ژوړ کوډتا ده

سوړ بنامار په غږ - غږ دی، د مرګې په پوله سپور دی
ستر غوږ ځنګ د پرګنو دی - په غلیم بل شوی اور دی
تر مسکو به خلاص نه شي - افغانانو ټول پاڅیدلي
د کارګر لاس کې سوتک دی - د بزګر په لاس کې لوړدی

* *

لینینیزم محوه کېږي - د رنو توږو خـــر پاده
دا د سره خزان سیلی ده - دا د ژوړ کوډتا ده

پیوستون د مؤمنانو به صف مات کړي د د هریانو
امنګام اخلي د وینو - دا د وخت له فرعونیانو
غوڅوي پوزې، غوږونه - د ظلم ریښې له قصابانو
ماتوي تري سره غاښونه - د دې عصر له لېوانـو

* *

د اسلام د پوې بلیږي - توره شپه زیاتې سبا ده
دا د سره خزان سیلی ده - دا د ژوړ کوډتا ده

---

*

د سرو وينو په بدل کې به آزاد افغانستان شي
د جهاد کړم سنګرکې به نابود روسي پوځيان شي
سور شيطان به ای نصرته! د تاريخ کندوته لوېږي
د توحيد جنډه به پورته د نړۍ په هسک آسمان شي

* *

ښ د حق او باطل جنګ دی - کاميابي يې حق ترخواده
دا د سره خزان سيلی ده - دا د ثور کودتا ده

*

ناصر باغ
١٧ / ٤ / ١٩٨٥

محمد عارف غروال

افغانستان شموله جهاد

روسی کاروان د افغانستان د نومیالی او ملی شخصیت میرویس نیکه د زیارت په ګاونډ کې ځای په ځای شو او په دې غرض یې کیمپ ودراوه چې په شاوخوا کې د مجاهدینو قرارګاوې اوجهادي مرکزونه له منځه یوسي .

روسان هسې هم ذاتاً وېرې دي او وېرې سائل شوي دي دوی چې د خُمکې پر مخ څه شی ګوري، په خوږلو یې هرڅه نه کوي په تېره بیا دافغانستان په شان له نعمتونو او خوږو میووڅخه په ډک هېواد کې خو هره میوه او هر ډول خوراکي مواد ددوی له پاره نوي-نوي نعمتونه دي ؛ ددوی کاروان چې ځای پرځای شو ، نو عسکریې په با غونو او کرندو کې لکه د وږیږو لپوانو په څېر تیت او پرک شول او په د غو باغونو او کرندو کې یې د میوو اونورو پیدا وارو په خوږلو کاس پوره کړ ، پس دوی باندې لوږه دومره غالبه شوې وه ، چې یو ګروپ یې د مرچکو له پټې څخه راتاو شول او بې ارادې یې د شنو او تازه مرچکو په خوږلو کاس پوره کړ ، خوږدانو دا سې مرچکي وې ، چې د دوی مرګ ته یې کاره ځارله او چې د دوی ناولو

او مرداړو ګډو ته يې ځانونه ورسول، نو هلته يې د دوی په کولو کې خپل عملیات پیل کړل او ستدلاسه يې يو سوريتي په ځمکه ساځملا و. او د دوښرخ کندې ته يې ولېږده، نورو ورسره ملګرو چې دده مرسته ولیده، نو د مرچکو له خوږالو څخه يې کاس ونیو او د مرچکو بوټو ته يې توپکونه ضربه کړل د «د بنمن - د بنمن» په نارو سره يې د مرچکو په کروندې باندې دوهره ډزې وکړې، چې د مرچکو ټول بوټي يې له بېخه وویستل خو مرچکې خپل کار کړې او خوابې سره کړې وه.

هو! د کرار هېواد افغانستان هر بوټی، هره ونه، هره میوه هره پرځه، هر ځاړوی او هره لوړه - ژوره نرموڼ په مقدس جهاد کې مستقیمه - فعاله برخه لري، یعنې که د کرار هېواد ځوانان د جهاد په سنګرونو کې پراته دي، نو ځاړوي دوی ته د مهماتو او خوړاکي موادو په رسولو بوخت دي، دوی ته غوړي او شوډې ورکوي او غوښه، لوښې - ژوړې، کالې او بوټي د مجاهدینو د پناه ګاه ځایونه دي او د د بنمن له بمبارۍ وخته د دوی له بېخ کیدو سره مرسته کوي، یا غونډې ورکوي او کروندې خوړاکي مواد ورته برابروي، آن چې ځینې پیدا وار لکه مرچکي د د بنمن په له منځه وړلو کې هم فعاله برخه لري.

اوس نو د لوی او معجزات خدای (ج) په مرسته له وحشي د بنمن څخه د تېښتې کار ورکه ده او یو داسې غاښ ماتونکی ګوزار ته ضرورت دی چې د دوی ناولې لمن بېخې ورټوله شي او د غه شان ګوزار انشاءالله د مجاهدو قوتونو په بشپړ بوالي او یو ځای وحدت کې پروت دی.

۱۳۶۳/۱۳/۲۰

بد آوازه بلبل

تازه زړه والو پاخه شوي وو - ملانصرالدين په يو باغ ورپښ شو ، شاوخوا يې وکتل ، د باغوان پته نه لګيده د ميوې شوق يې ستړکې ورپټې کړې ، باغ نه ښوت او يوې وڼې ته ور وخوت ؛ په داسې حال کې چې دې د ميوې په خوړلو لګيا و - باغوان راورسيد ، ورته وې ويل : دا څوک يې چې په خپل سر وڼې ته ختلی يې ؟

ملا وارخطا شو ، چې څه ووايي ، بې اختياره يې وويل : بلبل يم !

باغوان ورته وويل : څرنګه بلبل يې ؟!

ملا وويل : زړ وړه بلبلان وي ، يو وړ يې موږ يوو

باغوان وويل : بلبلان خو سندرې هم وايي ، ته سندرې ويلای شې ؟!

ملا وويل : ولې نه.

هغه ورته وويل : وګورو ، چې څرنګه يې وايې ؟!

ملا له مجبورېته په خپل چاپ کنجه آواز سندره شروع کړه ، باغوان په قهر ورته وويل : آيا بلبل هم بدآوازه وي ؟!

ملا وویل : ما درته وویل، چې زه وړه بلبلان یوو، چې اتفاقاً هغه بد آوازه یې موږ یوو.

* * *

ببرک - کارمل هم د قدرت د زړد لوشوق هسکو خانګوته وخپړاو، ده هم د ملا نصرالدین ځوندې باغ بې خاوندې لید، په ځاطرجمعې یې ښه خوړه، خو چې ولس سا ایسارکړ، مجبور شو چې د غلا پل له ځانه وایستي او ځان بلبل معرفي کړي ؛ د وطن د باغ اوبې یو آزاد وزرې مین بلبل.

خو، د افغانستان خلکو نه وړسره منل، چې ګڼې دی په سرښتیابلبل دی، ځکه چې په ستړګو یې لید، چې د غلا ګډه کړې یې په غاړه او د اسارت ځنځیرونو له آزاد الوت څخه محروم کړې دی. ده په ډېرې بې شرمۍ دا کوښښ شروع کړ، چې په ولس دا خبره ومني چې مشران زه وړه وي او په زه رهبریه کې یوه هم د غه طریقه ده، چې ده اختیارکړې ده، د دې د پاره چې عام ولس ښه متقاعد کړي د لوبې جګړې له نومه یې استفاده کوله وغوښتل.

د ببرک لوبه جګړه هم لکه دده جمهوري ریاست له زړه تله جګړو او ریاستونو یو نوی ډول او منتها بدآوازه. څوتنه خپل پرچیان یې له ځانه ولایاتو ورغوښتل، څوتنه یې پلاره یې هوره د پدر ولت د جبهې غړي او نور یې د کابل له سرایونو ډیوړان، کلینزان او نور ورګه خلک د قبایلو د مشرانو په نوم وربولل کړل، نوم یې وربانديز کښود «لویه جګړه»، بیا یې هغې لوبې جګړې ته په آوازخوانۍ شروع وکړه، چې بلبل تنوب یې ثابتاشي خو خپل کریهه آواز نور هم په خلکو ښه وپېژاند، چې بلبل نه دی بلکه د رو سانو یو تور مخی غلام دی او په غلا مانوکې هم تر ټولو بد شکله او بدآوازه.

اسدالله - غضنفر

د ثقافتي جهاد يوبل سنګر

د روان کال د نور په اتمه نېټه د افغاني شاعرانو او ليکوالو ادبي جرګې د نور د ننګيني کودتا د غندنې په غرض مشاعره جوړه کړه چې په هغې کې د مختلفو سټيمونو ګڼ شمېر شاعرانو ګډون کړی و . د مشاعرې په پای کې د غونډې ويندوی ووېل، چې نوې مشاعرې به د کمکي اختر له نېټې وروسته اعلانېږي او په دې ډول يې د دې نوي فرهنګي سنګر د تداوم نېړی وکړ .

هر استعماري دولت د نورو تحت الحمايه ولسونو د نورو شتمنيو غوندې ، بلکې تر هرڅه د مخه د هغوی ثقافت او فرهنګ له مخه وړي او خپل فرهنګ ورباندې ټيي ؛ خو د کرېلين سور استعمار هغه سور سېلاب دی، چې هر - هرڅه له منځه وړي او په ځای يې د لادينې کاڼي او خړې غورزوي . د دې سېلاب د تمبولو د پاره د مسلحانه جهاد ټغر قلمي مبارزه هم ضروري ده د افغاني شاعرانو او ليکوالو ادبي جرګې هم په همدې منظور خپل فعاليت شروع کړ ، چې قلمي جهاد د دې وحشي او ويرانګر طاقت په مقابل کې نور هم تېز او منسجم کړي . د دې فرهنګي سنګر د اساسنامې په مفادو کې يو د بېرته زېږېدونکي [illegible]

قتل اسرای جنگی جائز نباشد ، ولی چون در متن آیه « ممانعت صریح از قتل صورت نگرفته است ، ازینرو پیامبر اسلام (ص) منشاء این حکم را چنین فهمیده و به آن عمل فرموده اند که اگر اولی الامر مسلمانان بنا بر وجوهاتی قتل عدهٔ از اسرای جنگی را ضروری بداند میتوانند به آن مبادرت ورزد، ولی این جواز چون استثنائیست در یک قاعده عام فقط در صورت ضرورت مبرم میتوان استعمال کرد ، چنانچه پیامبراسلام (ص) از جملهٔ هفتاد (۷۰) تن اسرای جنگ بدر، تنها عقبه بن ابی معیط و نضر بن الحارث را و از اسرای جنگ احد ،تنها ابوعزه شاعر را به قتل محکوم کرد ، جمهور فقها باین عقیده اند که حکومت اسلامی در صورت احساس ضرورت میتواند اسیری را به قتل محکوم کند مگر اصدار فیصله درین زمینه ، از صلاحیتهای اولی الامر مسلمانان است نه اینکه هر سپاهی در هرگوشه وکناری به قتل اسیری مبادرت ورزد ، ولی اگر اسیری تلاش می ورزد تا فرار نماید و یا امکان شرارتی ازو متصور باشد هرگه باچنین حالتی مواجه شود میتواند بقتل آن اسیرجنگی اقدام نماید.

د :- هدف از توسل به جنگ در اسلام ، پایان بخشیدن به جنگ است ، سپاهیان مؤمن تنها به این منظور به جهاد مسلحانه توسل میجویند که بساط جنگ برچیده شود ، حالت امن و امان و فضای صلح و سلم تأمین گردد ، و امکان هر نوع تجاوز مسلحانه ازمیان برداشته شود ، جهاد مسلحانهٔ اسلامی نه برای کشورکشائی و غلبهٔ ملتی برملت دیگریست و نه جنگیستبی هدف

دادی، چې د جرګې غړي به په خپل لیکنو او ویناوو کې خپل ذات البینې واړه او جزوي اختلافات نه لوبوي، بلکې درسته توجه به د دین، وطن او ولس مشترک غلیم او د هغوی تالي ټمټوته اړوي.

لېنینې استعمار د لوی او زاړه استعمار له ټولو تجربو څخه ګټه اخلي او منجله د دې اصل نه په استفادې « تفرقه انداز وحکومت کن ! » هم ښه پوهیږي . موږ او تاسو که خپله محدوده انرژي، خپل منځي اختلافاتو ته وقف کړو، نو مسلماً، چې دښمن د پراخو تبلیغاتو په وړاندې به له مانې سره مخامخ شوو .

روسانو د اسلامي او افغاني فرهنګ پر ضد خپل کلتوري او تبلیغاتي فعالیتونه څوچنده زیات کړي دي . د کابل بنسټ له وړکتونونو نه رانیولې د تورې بحیرې تر سنا تورې پورې د یرغلګرو قواوو له نظامي مخابرو نه راواخله دماسکو رادیو تر مدرنو ستدیوګانو پورې، د کوچنیانو له ادبیاتو رانیولې د لیکوالو تر انتحادیو پورې او داسې نور ټول هغه وسایل دي چې روسان یې د خپل استعماري فرهنګ د غالبولو د پاره شپه او ورځ اسپتعالوي .

پخوانۍ روميانو متل کړی دی چې : « چېرته رومي ځپه شته هغه ځای روم دی » یعنې چېرته چې د رومي فرهنګ زور دی هلته د رومي نظام سیوري خپور دی . رومیان د خپل وخت ماهر او تجربه کاره استعمارګر وو ، دوی د نورو ولسونو په اړولو او مړیې کولو ښه پوهیدل او روسان چې ټن ورځ د استعمار په ګډې ناست دي؛ د خپلو پېشرویانو له ټولو

تجربو څخه استفاده کوي .

دروسي کلتور د جرائيمو په وړاندې مبارزه د افغانانو د پاره حياتي مسئله ده . ثقافتي جهاد د نظامي مجاهدې په څير لازمي او سرنوشت سازه دی .

که څوک شوروي روسيه تر هر بل هيواد د خپل کلتور ي برلاسي د پاره کار کوي .(د مثال په ډول د دنيا تر هربل هيواد په شوروي کې ډېر کتابونه چاپېري) خو د دوی د فلسفې تنګه لمن ، جبارانه اجتماعي سيستم او بالاخره غيرانساني اهداف هغه دري لاملونه دي ، چې د دوی له ثقافتي استعمار سره ې مقابله د مسلمانه جهاد په نسبت په مراتبو راته آسانه کړې ده .

زمونږ قهرمانو مجاهدينو د وطن له هرې پولې او کنډوا او هرې ويالې او گودرې د روسي کفر په مقابل کې سنگر جوړ کړي دی - زمونږ قلمکاران او ادبيان هم له دوی بايد الهام واخلي او په هر ځای او هروخت کې بايده دي چې د دښمن پرضد خپله وجيبه او فريضه ترسره کړي .

روسی استعمار په دې مشهور دی ، چې تکه هاتې په احتياط پل اخلي . له احتياط نه مطلب دا چې زمينه برابروي او د دې زمينې مهم جز همدغه د خلکو د اذهانو خرابول او اشغال دي .

د ثقافت مسئله ډېره مهمه ده . تاسو ګورئ د ننه په شوروی کې په مرکزي آسيا کې د قزاقستان ولس په کلتوري لحاظ له تاجيکانو او بخارايانو نه ډېر وروسته

پاتې و . . په ټېرو اویا وو کلونو کې د شوروی تاریخ ښیي، چې قزاقستان د تاجیکستان په نسبت د پر ژر اېل او استعماری فعالیتونو ته مساعد شو . په ختیځه اروپا کې پولینډیان د پر لوړ او بلغاریان د پر پټ ثقافت خاوندان و . نن ورځ تر ټولو اېل قمس بلغاریه ده او تر ګردو یاغي ملت پولینډیان دی . دا ځکه چې د ملحدو تزاریانو (د کریملین اوسني صاحبان) د کلتوري استعمار په مقابل کې پولینډیانو مقاومت کړی دی .

د هدې علتو په وجه زموږ د معنوي ارزښتونو امحا تر هر بل کار روسانو ته ضروري ښکاري .

نو ؛ ولې ! چې دا سنګر د نظامي جهاد تر حیرت انګیز سنګرونو هم پیاوړی او مظبوط کړو . په دې کار کې هر کام د ستاینې وړ دی او هر قدم د دښمن په زړه ګوزار دی .

د « افغاني شاعرانو او لیکوالو ادبي جرګه » دې خدای پاک په خپل عالي مرام کې له ټولو نورو فرهنګي سنګرونو سره کامیابه او بریالۍ لري !

بهار آمد ، بهار گل فشان کو ؟
نوای بلبل آتش بجان کو ؟
شمالی سربسر آتش گرفته
هوای میله های ارغوان کو ؟

کتاب

حدیث خون :

د وحشي ټوسانق وحشیانه یرغل یواځې ټموږ واړه-زامو پـه خپلو وینو نه دي لمبولي ، یواځې پې ټموږ شـنې او سمسورې لمنې په خپلو اوپردو وینو نه دي ړنګولي ؛ او یواځې پې ټموږ کلي-بانډې د پې ګناهو افغانانو په پاکو وینو نه دي سرې کړې . بلکې د دغو خونخورو ظالمانه قتل عامونو وحشیانه وژنو او له سرپیتوبه لیرې فجایعو لکـه ټمـوږ لوی غږونه او پلان دښتونه ټموږ خیالونه او فکرونـه هم په وینو رالړلي دي . کـه ټموږ سیاست-پوهان ، دی که عالمان دي ، کـه ادیبان او شاعران دي ؛ چې خوله چوله کوي ټر خولـه پې وینې څاڅي ، چې قلم پرکاغذ ږدي په وینو رنګک جملې ورباندې لیکي او چې وینا کوي ؛ له وینا پې د ټاټه وینې بهیږي . . . .

د مشهور سیاست-پوه او پیاوړي لیکوال ښاغلي عبدالرحمن-پژواک د شعرونو مجموعه هم د « حدیث خون » په نـوم ټپره میاشت خوره شوه ، چې هر بیت پې په وینو سوردی

او له هرې کرښې یې د بې‌ګناه ملت د پاکو وینو بوی راځي.

د دې مجموعې دوهمه برخه شعرونه د ننګیالي ښاغلي ساړي او جاري فاجعې عکاسي کوي.

«حدیث خون» د یو په وینو لمبیدلي ملت د زړه فریاد دی، چې د ملي ادیب د قلم له ژبې د نړیوالو وینې ضمیر رالږزوي.

«حدیث خون» د افغانستان د غږونو - رغونې، وینو - بویو او کلیو - باندو په وینو لړلې آواز دی، چې د دې معاصر ادب د یو ښه شاعر قلم یې د شعر په ژبه د نړۍ ګوټ - ګوټ ته رسوي او د راتلونکو پېړیو د پاره یې د افغانانو د مظلومیت د وشیځې په حیث خوندي کوي.

د دې مجموعې ټولوونکی ښاغلی محمد روحاني، طراح او خطاط ښاغلی میهني او ناشر د "امان کتاب خپرولو مؤسسې" ده. محترم رفیع ورباندې مقدمه لیکلې ده او د دې ښاغلیو هر یوه زیار او کار په خپل ځای د ستاینې او قدردانې وړ دی.

«زهرمک»

*

• خونابهٔ اشک:

درین ماه ها شاهد پیروزی های متعددی در ادبیات جهاد هستیم. «خونابهٔ اشک» از ثمرهٔ همین پیروزی هاست که از دیده و دل شاعر مبروی کاغذ چکیده و خلعت شعر

را بر تن نموده است .

در «خونابهٔ اشک» دوازده عنوان شعر گنجانیده شده که هر پارچهٔ آن آئینه ی است از زمان زندگی شاعر، زمانیکه آنرا فرو ریختن تاجها، شهادت یاران راه، حماسه های غازیان برهنه پا و ده ها خصوصیت دیگر از گذشته سخت متمایز میسازد .

گوینده اش «عبدالعلی- شیدا» همدوش و همگام با مردمان کشورش به نبرد برخاسته و همراه با آنها راه جهاد پیموده و در غلبه براهریمن روس لذت و درد کامیابی و شکست را چشیده است . این اشتراک عمل در مجاهده، شعر او را نیز رنگ بخصوص داده است . شعر او تذکاری از شهدای است که در راه آزادگی جان باختند . شعر او آوای رادمردان دلیریست که در کوه و دره و دمن و دریای دیار شان از دهان اژدهای خوت آشام کام می ستانند و شجاعانه میرزمند .

بطور کلی زمینهٔ شعر او زمان اوست و راز کامیابی هنر او نیز در همین جاست .

هنرشناسی میگوید که : « هنرمند آنست که برای ضرورت روح خویشتن مینویسد » و بر وفق همین تعریف اعتقاددارم که شیدا، هنرمند است و « خونابهٔ اشک » او بی پرده از ضرورتهای روح شاعر حکایت دارد .

دو عنوان شعر آزاد نیز در مجموعهٔ « خونابهٔ اشک » گنجانیده

شده است که الحق از نمونه های بسیار موفق شعر آزاد دریست.

کامیابی شاعر مخصوصاً در سروده های آزاد ناگفته پیداست و امیدواریم که در آینده نیز شاهد سجا مده های فاخر او باشیم .

شخصی بآنحضرت (ص) گفت : مرا وصیت کن . حضرت فرمود: در هرکار فکر کن هرگاه عاقبت را نیکو یافتی آن را پیش ببر و الّا از آن منصرف شو .

« شرح السنه »

وقتی استعار می شنویم ، شاید ترجمهٔ آنرا چنین کنیم !؟

Monthly

SPEDE



VOL I,NO 10
MAY 1985

که به منظور تثبیت برتری نظامی بر دیگران براه میافتد ، و نه هم اعمال قوه است برای تحمیل اکراهی و اجباری نظریه وسیستم معینی بر دیگران،جهاد مسلحانهٔ اسلامی«جنگ ضد جنگ» است «برای اقامهٔ امن» که در چار (٤) مرحله بررسی گردیده است :

(۱) در مرحلهٔ که علیه دعوت اسلامی موانع ایجاد میگردد و علیه نهضت حرب آغاز میشود و مقاومت مسلحانه برجنبش تحمیل میشود در منصورت، اسلام به افراد مؤمن و متعهد دستور میدهد که تا آنگاه برنامه و اسلحهٔ شان را برزمین نگذارند تا حرب سلاحش را برزمین بگذارد « حتی تضع الحرب اوزارها» احتمال حرب منتفی شود و خطر تجاوز از بین برود .

(۲) این جهاد مسلحانه باید موانع و مشکلات را از سر راه دعوت بردارد و در ماحول نزدیک خود به فتنه و شر خاتمه بخشد و زمینهٔ اقامهٔ دین را فراهم سازد، قرآن در این باره می فرماید : « و قاتلو هم حتی لا تکون فتنة ویکون الدین لله » (سورهٔ البقره - آیهٔ ۱۹۳) و با ایشان برزمید تا آنکه فتنه بنا شد و دین برای خدا باشد .

(۳) در مراحل نضج و کمال نهضت باید اهداف جهانی دنبال گردد ، در همه جا با قوای شر و فساد به مقابله بپردازد همه را از عبادت عباد رهائی بخشد ، در این مرحلهٔ تاریخی مطمح نظر این دعوت جهانی انسان در مجموع است صرف نظر از محدودیت های ملی و قومی و اقامهٔ دین در همه انحاء عالم است که قرآن مجید در این رابطه میفرماید :

میاشتنی ادبی مجله

سپیدک

(۱۰)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَللّٰہُ وَلِیُّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا یُخۡرِجُہُمۡ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوۡرِ ؕ وَالَّذِیۡنَ کَفَرُوۡۤا اَوۡلِیٰٓـئُہُمُ الطَّاغُوۡتُ یُخۡرِجُوۡنَہُمۡ مِّنَ النُّوۡرِ اِلَی الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِکَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ ہُمۡ فِیۡہَا خٰلِدُوۡنَ ۶

سورۃ البقرۃ آیت (۲۵۷)

دپښتو شرح :

دسره سیلاب بې رحمانه یرغل زمونږ د ښکلي هیواد په هره څنډه کې آبادۍ په داسې ویرانو بدلې کړې دي.

وجه اشتراک سالانه :

در امریکا ۳۰ دالر

در اروپا ۲۵ "

در پاکستان ۶۰ روپیه

شش ماهه، نصف قیمت

سپیدې

لومړۍ کال لسمه گڼه ۱۳٦٤ ش، هـ دوبۍ ۲۰مه
۱۹۸۵م د مې ۱۰مه

چلوونکی:
محمد صدیق پسرلی

زمونږ پته:

G.P.O
P.O.BOX NO 665
PESHAWAR
PAKISTAN

بانکی حساب:

الائیډ بانک ـ جهانګیر پوره ـ پرانچ
اکاونټ نمبر (٦٤٤٥)

فهرست

گڼه	مضمون	لیکوال	مخ
۱	تفسیری ازآیات قرآن حکیم	—	۳
۲	یک نامهٔ پر انه درد ...	دکتور طبیبی	۱۴
۳	یوحقیقت، یوتأثر	محمد آصف - صیم	۱۹
۴	زاد مرد پریشان	محمود - فارانی	۲۳
۵	د وطن پسرلی	عبدالوکیل - صداقت	۲۴
۶	... او لمړ له آسمانه ورته کتل	ذبیح الله - عطائی	۳۴
۷	ایرچونیست	سیخچون	۳۹
۸	څوک دا سې نه کوي !	اسدالله غضنفر	۴۵
۹	خوږ کمونستانو تحجاب سپل دی	پسرلی	۵۳
۱۰	د ناشر کتابخانه او موږ یم څه شول؟	خراساني	۵۸
۱۱	لنډه	—	۶۱
۱۲	د اوښکو دریاب	عبدالباري - غیرت	۶۷
۱۳	محبت دی په کار	زبیر - شفیقی	۶۸
۱۴	بلواکي	عبدالتین - تسکین	۶۹
۱۵	کیسه دده	نوید	۷۰
۱۶	د ایمان نور	ن - نشار	۷۲
۱۷	مناجات	جاوید اقبال - افکار	۷۳
۱۸	څنځیرونه	سید اسمعیل - فاطمی	۷۴
۱۹	د خالق نصرت	ذبیح الله - عطائی	۷۶
۲۰	د ثور کودتا	امان الله - نصرت	۷۸
۲۱	افغانستان شمولیه جهاد	محمد عارف - غرزوال	۸۵
۲۲	بدآولنۍ بلبل	پاستی	۸۷
۲۳	د ثقافتی جهاد یوبل سنګر	اسدالله - غضنفر	۸۹
۲۴	کتابهای تازه	نمرګ	۹۳